هفته واره رساله

# دِ حضرت سُفیان ثوري رَحۡمَۃُ اللہِ عَلَیۡہِ

# 87 ارشادات



- کور ته راغلې دولت بېرته واپس کړو
- د فرائضو نه پس افضل عمل
- د دنیا مثال
- د ټولو نه بد خواهش

اَلۡحَمۡدُ لِلّٰہِ رَبِّ الۡعٰلَمِیۡنَ وَالصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الۡمُرۡسَلِیۡنَ
بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ ط اَمَّا بَعۡدُ فَاَعُوۡذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیۡطٰنِ الرَّجِیۡمِ ط

# د حضرت سُفيان ثوري رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ 87 اِرشادات [1]

دُعائے عطّار: یا الله پاکه! څوک چې دا رساله "د حضرت سُفيان ثوري رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ 87 اِرشادات " ولولي یا واوري د هغهٔ د زړهٔ نه د دُنیا محبت لرې کړې او د هغهٔ روحاني سکون نصیب کړې او هغه د مور پلار سره بے حسابه جَنَّت الفردوس ته داخل کړې. اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

## د دُرُود شریف فضیلت

د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم صحابي حضرت جابر رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ د خپل والِدِ محترم حضرت سَمُرَه سُوَائي رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ نه روایت کوي چې مونږ د سرکار عالي وقار صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پهٔ دربار مبارک کښې حاضر وو چې یو کَس حاضر شو او عرض یې اوکړو: یا رسولَ الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ! د الله پاک پهٔ بارګاه کښې د ټولو نه ښهٔ عمل کوم یو دے؟ نو د خُدائے خوږ محبوب صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اِرشاد وفرمائیلو: " رښتیا وئیل او امانت ادا کول." (د حدیث راوي حضرت سَمُرَه رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ فرمائي چې) ما عرض اوکړو: یا رسولَ الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ! نور څهٔ اِرشاد کړئ! اوئي فرمائیل: " د ذِکر کثرت او پهٔ ما باندې دُرُودِ پاک لوستل دا عمل فَقر (یعني غریبي) ختموي." (القول البدیع، ص273 مختصراً)

بہرِ رَفعِ مَرَض و زَحمت و رَنج و کُلفَت ڈھونڈتے پھرتے ہیں وہ لوگ کہاں کا تعویذ
تم پڑھو صاحبِ لَولاک پر کثرت سے دُرُود ہے عَجَب دَردِ نِہاں اور اَماں کا تعویذ

(دیوانِ کافی، ص24)

صَلُّوا عَلَی الۡحَبِیۡب ❀❀❀ صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

---

[1] ... دا مضمون د المدینة العلمیه د کتاب "اللہ والوں کی باتیں" نه جوړه کړے شوې دہ.

# کور ته راغلے دولت يې واپس کړو (واقعه)

د عظيم بُزُرګ حضرت سُفيان ثَوري رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه ورور حضرت مُبارَک بن سعيد رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه بيانوي چې يو ګَس د حضرت سفيان ثَوري رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه خوا له د درهمو نه ډکې يوه يا دوه تيلۍ راوړې، د هغهٔ والد د سفيان ثَوري رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه دوست وو او هغوئي به د هغهٔ خوا له ډير تللو، راغلي ګَس عرض اوکړو: ابو عبدُ الله (دا د حضرت سفيان ثَوري رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه کُنيت دے)! آيا ستاسو په زړهٔ کښې زما د والِد د طرف نه څهٔ ناخوښه خبره شته ؟ هغوئي وفرمائيل: **الله** پاک دې پهٔ تاسو او ستاسو پهٔ پلار باندې رحم اوکړي، هغه خو داسې داسې وو (يعني هغوئي د هغهٔ د پلار تعريف اوکړو) هغهٔ عرض اوکړو: ابو عبدُ الله! زهٔ غواړم دا درهمې تاسو يوسئ او پهٔ کور کښې يې ولګوئ. حضرت سفيان ثَوري رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه د هغهٔ نه هُغه درهمې واخستې او کله چې هُغه ګَس پاځيدو او د هلته نه روانيدلو نو هغوئي هُغه تيلۍ ما له راکړه او اوئې فرمائيل: مبارکه! دا هغهٔ له ورکړئ او هُغه ګَس ته يې وفرمائيل: اے زما د دوست ځويه! زهٔ غواړم چې دا مال تهٔ واخلې. هغهٔ عرض اوکړو: ابو عبد الله! آيا ستاسو پهٔ دې باره کښې څهٔ شک دے؟ اوئې فرمائيل: نا، خو زهٔ دا غواړم چې دا تهٔ واخلې. هغوئي هغهٔ ته څو کرته ووئيل نو هغهٔ هُغه درهمې واخستې او لاړو. کله چې هغه لاړو نو ما ځان منع نکړے شو او د خپل ورور حضرت سُفيان ثَوري رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه ته مې پهٔ خفګان سره عرض اوکړو:پهٔ تا باندې افسوس دے! ستا زړهٔ دے يا کاڼے ؟آيا ستا پهٔ ما باندې رحم نهٔ راځي ؟آيا زما او پهٔ خپلو بچو باندې رحم نهٔ درځي؟ د دې نه علاوه ما هغوئي ته نور هم ډير څهٔ ووئيل، حضرت سُفيان ثَوري رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه وفرمائيل: الله! اے مبارکه! مطلب دا چې تهٔ دا مال پهٔ ښهٔ خوند وخورې او د دې حساب دې زما سره وشي. (الله والوں کی باتیں، 6/7) د الله رَبُّ العزّت دې پهٔ هغوئي باندې رَحمت وي او د هغوئي پهٔ وسيله دې زمونږه بے حسابه بخښنه وشي. اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم.

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب ❀❀❀ صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** تاسو وکتل چې حضرت ابو عبد الله سفیان بن سعید ثَوري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د **الله** پاک نه ځومره ویره لرونکے، د دُنیا سره رغبت نۀ لرونکےاو د دُنیا د مال د حساب او کتاب نه ویریدونکے وو، حضرت سفیان بن سعید ثَوري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه پۀ تبع تابِعینو کښې شمیرلے کیږي، هغوئي ډیر بهترین عالِم، محدث، ډیر لوئي عبادت ګزار او د **الله** پاک ولي وو.

د هغوئي مقام او مرتبه او عظمت او اوچت والے ډیر علمائے کرامو بیان کړے او پۀ کتابونو کښې یې د دې ذِکر کړے بلکې حضرت سفیان ثَوري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه دومره د برکت والا بزرګ دے چې چا به هم د هغوئي صحبت اِختیارولو یا د هغوئي پۀ وسیله باندې به یې څۀ خبره کوله نو د علماؤ پۀ نظر کښې به د هغۀ قدر هم زیاتیدلو.

عظیم تابِعي بزرګ حضرت عبدُ الله بن مُبارَک رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: زما د حضرت سفیان ثَوري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه محفلونه ډیر خوښ دي ځکه چې ما کله هم دوئي لیدلي دے نو کله د پرهیزګارۍ او تقویٰ پۀ حالت کښې، کله پۀ نمونځ کولو او کله د فقهي پۀ مسئلو باندې پۀ غور کولو مې لیدلے دے. (اللہ والوں کی باتیں، 497/6)

حضرت سفیان ثَوري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه پۀ مختلفو موقعو باندې داسې د حکمت نه ډک او ایمان تازه کوونکي اقوال اِرشاد کړي دي چې که مسلمان پۀ دې باندې عمل اوکړي نو پۀ دې سره اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم! د هغۀ دُنیا او اخرت ښۀ کیدے شي. پۀ دې کښې ځینې اقوال د اسانۍ سره دلته وړاندې کولے شي، د **الله** پاک د رضا موندلو او د عِلمِ دِین د حاصلولو پۀ نیت سره دا اقوال ولولئ او نیت اوکړئ چې پۀ دې باندې به عمل هم کوو. اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم!.

# د علمِ دِين د اَهميت او ترغيب پهٔ باره کښې 14 مَدَني ګلونه

﴾1﴿ حضرت سُفيان ثَوري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: عِلم دې د پاره حاصلولے شي چې د دې پهٔ ذريعه د **الله** پاک ويره او تقویٰ حاصله شي، پهٔ دې وجه عِلم له فضيلت ورکړے شوے دے. (اللہ والوں کی باتیں، 501/6)

﴾2﴿ عِلم زده کړئ او پهٔ دې باندې د صبر او برداشت نه کار واخلئ او د دې سره خندا مهٔ ميلاوهئ ګنې نو زړهٔ به مو کاڼے شي. (اللہ والوں کی باتیں، 502/6)

﴾3﴿ د ځان پهٔ ذريعه عِلم له ښکلا ورکړئ د عِلم پهٔ ذريعه ځان له ښکلا مهٔ ورکوئ. (اللہ والوں کی باتیں، 501/6) (مطلب دا چې د عِلمِ دِين پهٔ دولت حاصلولو د ځان نه جهالت لرې کړئ او بيا هغه عِلم خور کړئ، دا نهٔ چې عِلم دې د پاره حاصل کړئ چې خلق ستاسو تعريف اوکړي او تاسو ته لوئي عالِم ووائي.)

﴾4﴿ "عِلم" د دِين طبيب دے او "درهم" د دِين بيماري ده، چې طبيب پخپله بيماري د ځان طرف ته راښکي نو بيا به د بل چا عِلاج څنګه کوي؟ (اللہ والوں کی باتیں، 501/6)

﴾5﴿ د عِلم د ټولو نه ومبئ درجه خاموشي، دويمه پهٔ توجه سره اوريدل او يادول، دريمه پهٔ دې باندې عمل کول او څلورمه دا خورول دي. (اللہ والوں کی باتیں، 502/6)

﴾6﴿ د فرضو نه پس د عِلم حاصلولو نه افضل عمل بل هيڅ نشته. (اللہ والوں کی باتیں، 502/6)

﴾7﴿ اِنسان له پکار دي چې خپل اولاد پهٔ عِلم حاصلولو مجبور کړي ځکه چې د دهٔ نه به پهٔ دې باره کښې پوښتنه کولے شي. (اللہ والوں کی باتیں، 505/6)

﴾8﴿ حديث شريف د سرو او سپينو زرو نه زيات دے خو دا خوک نهٔ حاصلوي . (يعني د دې حاصلولو والا ډير کم دي.) (اللہ والوں کی باتیں، 503/6)

﴾9﴿ د حديث عِلم سراسر عزت دے، څوک چې د دې پهٔ ذريعه دُنيا غواړي نو دُنيا به ميلاؤيږي او څوک چې اخرت غواړي نو اخرت به ميلاؤيږي. (اللہ والوں کی باتیں، 505/6)

﴾10﴿ د خلقو د پاره د حديث نه زيات ګټه ور (يعني فائده مند) هيڅ څيز نشته.
(اللہ والوں کی باتیں، 505/6)

﴾11﴿ که ما ته معلومه شي چې څوک د اِخلاص په نيت د حديث عِلم حاصلول غواړي نو زهٔ به ضرور د هغهٔ کور ته ځم او حديث به ورته بيانووم.
(اللہ والوں کی باتیں، 506/6)

﴾12﴿ د حديث شريف د زده کولو نه زيات افضل عمل هيڅ نشته په شرط د دې چې نيت صحيح وي. (اللہ والوں کی باتیں، 506/6)

﴾13﴿ عِلم هم د عمل د پاره حاصلولے شي نو د عمل په وجه د عِلم حاصلول پرېږدئ نهٔ چې د عِلم حاصلولو په وجه عمل پرېږدئ. (اللہ والوں کی باتیں، 18/7)

﴾14﴿ (حضرت سُفيان ثَوري رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه ډېر لوئي محدث وو خو د دې باوجود عاجزي کوي او فرمائي:) زهٔ غواړم چې د حديث شريف په معامله کښې برابر برابر نجات حاصل کړم (يعني ثواب ميلاؤ شي نهٔ چې را اونيولے شم). (اللہ والوں کی باتیں، 78/7)

## د عبادت په باره کښې 3 مَدَني ګلونه

﴾1﴿ زهٔ چې کله قرآنِ پاک لولم نو زړهٔ مې غواړي چې هم دلته ايسار شم او د دې نه علاوه د بَل يو څيز طرف ته لاړ نهٔ شم. (اللہ والوں کی باتیں، 506/6)

﴾2﴿ د قرآن په تلاوت کښې (زياته) ښکلا هُغه وخت راځي کله چې په دې کښې زُهد (يعني د تِلاوت کوونکي په زړهٔ کښې د دُنيا نه بے رغبتي) هم شامله شي.
(اللہ والوں کی باتیں، 44/7)

﴾3﴿ حضرت سيِّدُنا يحيیٰ بن يَمان رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه بيانوي چې ما د حضرت سيِّدُنا سفيان ثَوري رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه نه پوښتنه اوکړه: ابو عبدُ الله! عبادت چرته ښهٔ کيدے شي؟ حضرت سفيان ثَوري رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه وفرمائيل: چرته چې د ډوډئ يوه غټه تيلۍ په يو درهم ميلاؤيږي د دې چې څوک د بل چا طرف ته په سوالي نظر نهٔ ګوري. (اللہ والوں کی باتیں، 26/7)
(مطلب دا چې عبادت په هُغه ځائے کښې ډېر په سکون سره کيږي چرته چې د خلقو

بنيادي ضرورتونه پهٔ اسانئ سره پوره کيږې لکه د خوراک څښاک څيزونه ارزان وي، چې د څهٔ لوږې يا محتاجئ پهٔ وجه د نورو پهٔ مخکښې د سوال يا اُميد نه ډک نظر پورته نهٔ کړې.)

## د اللّٰه پاک نه د ويرې پهٔ باره کښې 3 مَدَني ګلونه

﴿1﴾ **اللّٰه** پاک پهٔ بنده باندې پهٔ هُغه حاجت کښې ضرور اِنعام فرمائي پهٔ کوم کښې چې هغه د **اللّٰه** پاک پهٔ بارګاه کښې پهٔ کثرت سره ژاړي. (اللّٰہ والوں کی باتیں، 17/7)

﴿2﴾ کله چې مونږ پهٔ دِين کښې څهٔ سخت وعيد يا د ويرې خبره اورو نو ويريږو او کله چې د رحمت يا نرمئ والا خبره اورو نو د مسلمانانو د پاره د دې اُميد لرو. مونږ نهٔ پهٔ وفات شوو باندې (د جَنَّتي يا دوزخي کيدو) فيصله اوروو او نهٔ د ژوندو حِساب کوو. د کومو خبرو چې مونږ ته عِلم نهٔ وي، هغه پهٔ عِلم والؤ باندې پريږدو او د هغوئي رائے د خپلې رائے نه بهتره ګڼو. (اللّٰہ والوں کی باتیں، 41/7)

﴿3﴾ د څو پورې چې د **اللّٰه** پاک د ويرې سخت والے نهٔ وي پهٔ عبادت باندې اِستقامت موندل ګران دي. (اللّٰہ والوں کی باتیں، 501/6 ملخصاً)

## د مال د محبت او د دُنيا نه د بے رغبتئ پهٔ باره کښې 20 مَدَني ګلونه

﴿1﴾ دُنيا ته دُنيا ځکه وئيلے شي چې دا "دَنِيَّه يعنې مُرداره" ده او مال ته مال ځکه وئيلے شي چې دا مالداره کړوي. (اللّٰہ والوں کی باتیں، 16/7)

﴿2﴾ مال ته مال پهٔ دې وجه (هم) وئيلے شي چې دا زړونه مائله کوي. (اللّٰہ والوں کی باتیں، 531/6)

﴿3﴾ د خلقو د رضا کولو داسې اِنتها ده کومې ته چې رسيدے نشي او د دُنيا د طلب کولو هم يوه انتها ده خو دې ته هم رسيدل نشي کيدے. (اللّٰہ والوں کی باتیں، 531/6) (يعنې د ټولو خلقو خوشحاله ساتل ممکن نهٔ دي او هُم داسې د دُنيا خواهشات چرې هم نهٔ ختميږي.)

﴿4﴾ بے خونده خوراکونه کول او زیکې جامې اغوستل د دُنیا نه بے رغبتي نهٔ ده بلکې د دُنیا نه بے رغبتي خو د اُمیدونو وارهٔ کیدل (یعنې مرګ مخې ته ساتل) دي. (اللہ والوں کی باتیں،531/6)

﴿5﴾ که چرې تاسو ته د خوراک نهٔ صرف د خیټې ډکولو ضرورت وي نو دې د پاره سوال مهٔ کوئ. که تاسو ته د مالکې ضرورت وي نو سوال مهٔ کوئ او پهٔ دې پوهه شئ چې کومه ډوډئ تاسو پهٔ قسمت کښې ده د مالکې وراچولو سره هٔغه ورهٔ اخکلے شوي دي او که تاسو ته د اوبو څښلو ضرورت وي نو خپل لاسونه اِستعمال کړئ دا به د اوبو د لوښي کار اوکړي. (اللہ والوں کی باتیں،526/6)

﴿6﴾ مالداره هم زاهد (د دُنیا نه بے رغبته) کیدے شي خو چې پهٔ مصیبت باندې صبر اوکړي او پهٔ نعمت باندې شُکر اوکړي. (اللہ والوں کی باتیں،532/6)

﴿7﴾ کله چې بنده د دُنیا نه بے رغبته شي نو **اللّٰه** پاک د هغهٔ زړهٔ د حِکمت نه ډک کړي بیا هٔغه حِکمت د هغهٔ پهٔ خُله باندې جاري کړي او هغهٔ ته د دُنیا عیبونه، د هغې بیمارۍ او د هٔغه بیمارو عِلاج هم وښائي. (اللہ والوں کی باتیں،535/6)

﴿8﴾ د **اللّٰه** پاک هٔغه نعمت کوم چې زما نه دُنیا لرې کړي د هٔغه نعمت نه لوئي دے کوم چې ما ته راعطا کړي. (اللہ والوں کی باتیں،76/7) (یعنې د **اللّٰه** پاک د ټولو نه لوئې نعمت دا دے چې هغه د دُنیا محبت او لالچ زما د زړهٔ نه اوباسي، دا نعمت د دې نه هم لوئي دے چې هغه ما ته د دُنیا دولت راعطا کړي.)

﴿9﴾ د دُنیادارو تعظیم کونکي عالِم کښې هیڅ خیر نشته. (اللہ والوں کی باتیں،65/7)

﴿10﴾ زهٔ د چا د دُنیا سره محبت د هغهٔ دنیادارو ته د سلام کولو نه پیژنم. (اللہ والوں کی باتیں،65/7)

﴿11﴾ ما یو درهم هم چرته د ودانۍ پهٔ جوړولو نهٔ دے لګولے. (اللہ والوں کی باتیں،31/7)

(د حضرت سفیان ثَوري رَحۡمَۃُ اللهِ عَلَیۡه دا عمل د دُنیا نه د بے رغبتۍ د اعلیٰ درجې دلیل دے.)

﴿12﴾ که ستا د دې خبرې وَس وي چې پهٔ خپل ژوند کښې (بغير د ضرورت او د شرعي حاجت نه) د چا سره تعلق نهٔ ساتې نو هم داسې کوه، د خپل ضرورت د سامان د صحيح کولو پهٔ فِکر کښې لګيا اوسه، د حکمرانانو خوا له د تللو نه ځان ساته، ستا چې هغوئي ته کوم ضرورت وي هغه د **الله** پاک نه غواړه، پهٔ پيښيدونکې هره خبره کښې د **الله** پاک پناه لازمي اونيسه، د تولو خلقو نه بے نيازه اوسه او خپل ضرورتونه هغهٔ ته وړده د چا پهٔ بارګاه کښې چې د ضرورتونو هيڅ حيثيت نشته.
(الله والوں کی باتیں، 12/7)

﴿13﴾ د بصيرت لرونکي ګس پهٔ نظر کښې د دُنيا اکثره حصه بد ترينه ده.
(الله والوں کی باتیں، 28/7)

﴿14﴾ چې کوم انسان ته هم د دُنيا نه څهٔ ورکړے شو هغه ته دا ووئيلے شو چې " دا واخله او د دې همره غمونه هم واخله." (الله والوں کی باتیں، 29/7)

﴿15﴾ تقوىٰ اِختيار کړه **الله** پاک به د دُنيا رازونه پهٔ تا باندې ظاهر کړي، پرهيزګاري اِختيار کړه **الله** پاک به ستا سره پهٔ حساب کښې نرمي وفرمائي، شکمن کارونه پريږده او هُغه کارونه اوکړه کوم چې تا پهٔ شک کښې نهٔ اخته کوي او شک پهٔ يقين سره ختم کړه او د دې سره به ستا دِين سلامت پاتې شي. (الله والوں کی باتیں، 29/7)

﴿16﴾ که چرې تهٔ پهٔ اخرت کښې د رغبت پهٔ وجه دُنيا نهٔ شې پريښودے نو د دې ويرې نه يې پريږده چې دا بے کاره زمکه او د بيمار اوښانو اَصطَبل [يعني د اوښانو د تړلو ځائے] دے پهٔ کوم کښې چې ستا پهٔ شان خلق ډير دي. (الله والوں کی باتیں، 30/7)

﴿17﴾ د کوم نيک عمل پهٔ وجه چې تهٔ پهٔ وفات شوو خلقو باندې رشک کوې، هُغه خوبي که چرې پهٔ ژوندي اِنسان کښې ووينې نو پهٔ هغهٔ باندې هم رشک اوکړه. (الله والوں کی باتیں، 30/7 ملخصاً) (يعنې صرف د مرګ نه پس د نيکو قدر مهٔ کوه بلکې پهٔ ژوندو کښې هم پهٔ نيکو ليدلو د هغوئي قدر کوه.)

﴿18﴾ کله چې هم د دُنيا نه څۀ مونږ ته راغلےنو مونږ هم دا غوښتلې چې پۀ دې باندې راضي څوک انسان ميلاؤ شي او هغۀ له ورکړم. (اللہ والوں کی باتیں، 31/7)

﴿19﴾ د دُنيا مثال پۀ شاتو د غوړې کړے شوې ډوډۍ پۀ شان دے، کۀ پۀ دې باندې مچ کښيني نو هُغه ډوډۍ هغه د وزرو نه محرومه کوي او کۀ هغه پۀ وچه ډوډۍ باندې کښيني نو محفوظ پاتې کيږي. (اللہ والوں کی باتیں، 76/7)

﴿20﴾ ستا د پاره پۀ دُنيا کښې د ټولو نه ښه څيز هُغه دے کوم چې تا پۀ دُنيا کښې پۀ ازميښت کښې اخته نۀ کړي او کۀ تۀ پۀ څۀ څيز کښې پۀ ازميښت کښې اخته شې نو ستا د پاره بهتر دا دي چې هُغه څيز ستا د لاس نه لاړ شي چې تۀ د ازميښت نه بچ شې. (اللہ والوں کی باتیں، 30/7 ملخصاً) (يعنې اصلي خير پۀ دې کښې دے چې د دُنيا څيز ستا د پاره د فتنې يا د ګناه سبب جوړ نۀ شي او کۀ جوړيږي نو د دې نه نشت والے ستا پۀ حق کښې بهتر دے.)

## د مرګ، قبر او د اخرت پۀ باره کښې 12 مَدَني ګلونه

﴿1﴾ لکه څنګه چې تا ته د مرګ پته ده کۀ دغه شان ځناورو ته هم وے نو تاسو ته به چرې هم څورب تازه خاروے د خوراک د پاره نۀ ميلاؤيدو. (اللہ والوں کی باتیں، 538/6)

﴿2﴾ ما چرې هم د خپل نفس د علاج نه زيات ګران عِلاج د څۀ څيز نۀ دے کړے، کله هغه زما خلاف وي او کله يو شان. (اللہ والوں کی باتیں، 8/7)

﴿3﴾ اے هوښيار انسانه! ژوند ګنده دے د دې صفائي د مرګ او قبر وحشتونه يادول دي. خلقو د سوچ او فِکر نه پس دُنيا ته بد وئيلي دي کومه چې د مالکونډۍ د (ترخې) ميوې پۀ شان د بره نه ښکلې او د دننه نه ډيره ترخه ده. د زمانې حادثې هميشه د دې سره تړلې وي او د دې مصيبتونه پۀ کانړو باندې د بهيدونکو تيزو اوبو پۀ شان دي. (اللہ والوں کی باتیں، 513/6)

﴾4﴿ کله چې ته د دُنيا نه د تقوىٰ توبښه د ځان سره نهٔ وړې او د مرګ نه پس د داسې ګس سره ميلاؤ شې چا چې تقوىٰ خپله توبښه جوړه کړې وه نو تهٔ به ډير وشرميږې چې تهٔ د هغهٔ پهٔ شان ولې نهٔ شوې او تا د هغهٔ پهٔ شان تياري ولې اونکړه لکه څنګه چې د هغهٔ ده. (اللہ والوں کی باتیں، 514/6)

﴾5﴿ کله چې مړے پهٔ کټ پروت وي نو هغهٔ ته وئيلے کيږي: د خلقو نه خپل تعريف واوره. (اللہ والوں کی باتیں، 74/7)

﴾6﴿ کله چې د يو وفات شوي ګس ذِکر کيږي نو (د هغهٔ پهٔ باره کښې) د عامو خلقو خبرو له اهميت مهٔ ورکوئ بلکې د عِلم او د عقل والؤ خلقو خبرو له اهميت ورکوئ. (اللہ والوں کی باتیں، 38/7)

﴾7﴿ د مړي کور والؤ له پکار دي چې هغوئي وفات کيدونکي ته د شهادت د کلمې تلقين [1] اوکړي ځکه چې حضرت ملک المَوت عَلَيْهِ السَّلَام د دهٔ ملا له لاس وروړي نو د دهٔ د خبرو کولو او د پيژندلو صلاحيت ختم شي، بيا هغه د ځنکدن د تکليف نه تيريږي، که هٰغه وخت د هغهٔ پهٔ لاس کښې توره وي نو پهٔ طاقت موندلو به خپل پلار هم ووژني. (اللہ والوں کی باتیں، 71/7)

﴾8﴿ خلق اودهٔ دي چې کله مړهٔ شي نو رابيدار به شي. (اللہ والوں کی باتیں، 72/7)

---

[1] ... د ځنکدن پهٔ حالت کښې چې د خو پورې رُوح مرۍ ته نهٔ وي راغلے وفات کيدونکي ته دې تلقين اوکړي يعنې د هغه پهٔ خوا کښې دې پهٔ تيز اواز ولولي: اَشْهَدُ اَنْ لَّا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَاَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا رَّسُوْلُ اللّٰه (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) خو هغه ته دې د وئيلو حکم نهٔ کوي. (جوہرہ نیرہ، ص130)

او چې کله هغه کلمه ولولي نو تلقين دې بس کړي، آؤ کله چې هغه د کلمې لوستلو نه پس څهٔ خبره اوکړي نو بيا دې تلقين اوکړي چې د هغه اخري کلام " لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللّٰه " شي- د خوږ مُصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے چې د چا اخري کلام " لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ " وي هغه به جَنَّت ته داخليږي-
(ابوداود، 255/3، حدیث: 3116-عالمگیری، 157/1)

﴿9﴾ د سترګو ليدل د دُنيا سره او د زړهٔ ليدل د اخرت سره دي. بے شکه بنده پهٔ سترګو ليدل کوي خو د دې نه هيڅ فائده نهٔ شي حاصلولے او که هغه د زړهٔ پهٔ نظر ګوري نو فائده حاصلولے شي. (اللہ والوں کی باتیں، 74/7)

﴿10﴾ د ټولو نه خراب خواهش دا دے چې تهٔ د اخرت پهٔ عمل دُنيا وغواړې. (اللہ والوں کی باتیں، 74/7)

﴿11﴾ زهٔ د دُنيا نه د اخرت طرف ته د سفر کوونکي مؤمِن مثال د هغه ماشوم سره ورکووم کوم چې پهٔ رحمِ مادَر (يعنې د مور خيټې) د تنګ ځائے نه راووځي او د دُنيا ارام بيامومي. (اللہ والوں کی باتیں، 32/7)

﴿12﴾ حضرت سُفيان ثَوري رَحْمَةُاللهِعَلَيْه به دا شعر د مثال پهٔ توګه پيش کولو:

بَاعُوْا جَدِيْدًا جَمِيْلًا بَاقِيًا اَبَدًا　　بِدَارِسٍ خَلَقٍ يَا بِئْسَ مَا اتَّجَرُوْا

ترجمه: هغوئي نوے ښکلے او هميشه باقي پاتې کيدونکے (اخِرت) د زړې او ختميدونکې (دُنيا) پهٔ بدل خرڅ کړو، د هغوئي تجارت څومره خراب دے. (اللہ والوں کی باتیں، 9/7)

## د مشهوريدو نه د بچ کيدو پهٔ باره کښې 7 مَدَني ګلونه

﴿1﴾ زهٔ پهٔ مکه او مدينه کښې د غريبانو، بے وَسو او عبادت ګزارو خلقو ترمينځه پهٔ اوسيدو د زړهٔ سکون حاصلووم. (اللہ والوں کی باتیں، 10/7)

﴿2﴾ د مشهوريدو نه ځان ساتئ، زهٔ چې د کوم بزرګ خوا له هم لاړم هغوئي زهٔ د مشهوريدو نه منع کړم، پيژندګلو کمه ساته ستا غيبت به کم کيږي. پهٔ پټ پاتې کيدو کښې خير دے. (اللہ والوں کی باتیں، 33/7)

﴿3﴾ څوک هم دوست جوړ کړه بيا د هغهٔ نه خفه شه او بيا څوک د هغهٔ خوا له اوليږه او د ځان پهٔ باره کښې د هغهٔ رائے معلومه کړه او وګوره (چې هغه ستا څنګه مخالفت کوي). (اللہ والوں کی باتیں، 13/7)

﴿4﴾ څوک چې ستا نه خبر نۀ وي هغۀ ته د ځان پۀ باره کښې مۀ وايه او څوک چې تا پيژني د هغۀ پۀ باره کښې د ځان خبرولو کوشش مۀ کوه. (اللہ والوں کی باتیں، 13/7)

﴿5﴾ د شان او مرتبې د محبت نه ځان ساته ځکه چې د دې نه مخ اړول د دُنيا نه د مخ اړولو نه هم زيات ګران کار دے. (اللہ والوں کی باتیں، 531/6)

﴿6﴾ زۀ غواړم چې پۀ داسې ځائے کښې يم چرته چې نۀ پيژندلے کيږم، نۀ رسوا کيږم. (اللہ والوں کی باتیں، 534/7)

﴿7﴾ ما ته د هر څيز پريښودل د عهدې او د مشرۍ د پريښودو نه زيات اسان ښکاره شو. تۀ به وينې چې يو کَس خوراک، اوبۀ، مال او جامې خو پريښودے شي خو کله چې د هغۀ سره د عهدې او د مشرۍ پۀ معامله کښې جګړه اوکړے شي نو هغه به د دې دِفاع کوي او دښمني به درسره کوي. (اللہ والوں کی باتیں، 56/7)

## د مختلفو خبرو پۀ باره کښې 28 مَدَني ګلونه

﴿1﴾ د بدکاره خلقو نه د خير طمع لرل د حيرانتيا خبره ده. (اللہ والوں کی باتیں، 72/7)

﴿2﴾ کله چې تۀ خپل نفس وپيژني نو بيا به تاته د خپل ځان پۀ باره کښې کيدونکې خبرې هيڅ نقصان نۀ رسوي. (اللہ والوں کی باتیں، 535/6)

﴿3﴾ د ظالم مخ ته کتل هم خطا ده او ګمراه کوونکو مشرانو ته که کتل وي نو هغوئي پۀ زړۀ کښې بد ګڼئ هسې نۀ چې ستاسو اعمال برباد نۀ شي. (اللہ والوں کی باتیں، 57/7)

﴿4﴾ د مالدارو کورونو ته مۀ ګورئ او کله چې هغوئي پۀ خپلو سورلو چرته تيريږي هغې ته هم مۀ ګورئ. (اللہ والوں کی باتیں، 57/7)

﴿5﴾ چا چې د ظالِم د پاره د ډير عمر دُعا اوکړه هغۀ دا خوښ کړل چې د **اللہ** پاک نافرماني اوکړے شي. (اللہ والوں کی باتیں، 75/7)

﴿6﴾ آجر د صبر برابر ميلاؤيږي. (اللہ والوں کی باتیں، 75/7)

﴾7﴿ هغه کَس عالِم او هوښيار نهٔ دے کوم چې افت او ازميښت نعمت او سکون مصيبت نهٔ ګڼي. (اللہ والوں کی باتیں،7/76)

﴾8﴿ مونږ پهٔ دِين او دُنيا کښې د هم خياله دوست نه زياته فائده مند څيز بل نهٔ دے موندلے. (اللہ والوں کی باتیں،7/78)

﴾9﴿ د **اللّٰه** پاک حَمد ذِکر هم دے او شُکر هم دے، د دې نه علاوه پهٔ يو څيز کښې هم يو ځائے ذِکر او شُکر نشته. (اللہ والوں کی باتیں،7/78)

﴾10﴿ پهٔ خلقو باندې به يو زمانه داسې راشي پهٔ کومه کښې چې به (د حالاتو دخراب والي پهٔ وجه) د يو هوښيار سترګې نهٔ يخيږي. (اللہ والوں کی باتیں،7/17)

﴾11﴿ تاسو له پکار دي چې د ژوند د ضرورتونو د پاره درميانه لاره اِختيار کړئ او د سرکشه خلقو د مشابهت اختيارولو نه بچ اوسئ، د خوراک، اوبو، جامو او سورلۍ نه هغه څيزونه اختيار کړئ کوم چې ذليل نهٔ وي، د پرهيزګاره، امانت دار او د **اللّٰه** پاک نه د ويريدونکي نه مشوره اخلئ. (اللہ والوں کی باتیں،7/19)

﴾12﴿ دواړه نګهباني فرښتے د نيکو او د ګناهونو بوئي هغه وخت مومي کله چې زړهٔ پخه اِراده اوکړي. (اللہ والوں کی باتیں،7/22)

﴾13﴿ کله چې نمر د مغرب طرف نه راوخيژي نو ملائکې به خپلې صحيفې راغونډې کړي او قلم به کيږدي. (اللہ والوں کی باتیں،7/23)

﴾14﴿ د شيطان د ملا ماتولو د پاره د لَآ اِلٰهَ اِلَّا الله وئيلو نه زيات بل هيڅ يو څيز نشته او پهٔ ثواب زياتوونکو کلامونو کښې د اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ پهٔ شان هيڅ کلام نشته. (اللہ والوں کی باتیں،7/23)

﴾15﴿ ګمان پهٔ دوه قِسمه دے، يو هغه پهٔ کوم کښې چې ګناه ده. دويم هغه پهٔ کوم کښې چې ګناه نشته. ګناه والا دا دے چې پهٔ خُله باندې راشي او کوم چې پهٔ خُله باندې رانشي پهٔ هغې کښې ګناه نشته. (اللہ والوں کی باتیں،7/23)

﴿16﴾ که يقين پهٔ زړهٔ کښې داسې قرار اونيسي لکه څنګه چې پکار دے نو زړهٔ به د جَنَّت د شوق پهٔ وجه خوشحاله شي يا د دوزخ د ويرې نه غمژن.
(اللہ والوں کی باتیں، 26/7)

﴿17﴾ کله چې تاسو ته د يوې ارزانې علاقې عِلم وي نو هلته لاړ شئ ځکه چې هغه ستاسو د دِين د پاره ډيره د سلامتۍ والا او ستا د پاره د تهمت زياته کموونکې ده. (اللہ والوں کی باتیں، 26/7)

﴿18﴾ د حضرت سيِّدُنا وَکِيع رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه نه مروي دي چې مونږ د اختر پهٔ ورځ د حضرت سيِّدُنا سُفيان ثَوري رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه سره ووتلو، حضرت سُفيان ثَوري رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه وفرمائيل: پهٔ ننۍ ورځ زمونږه وړومبے کار نظر ښکته ساتل دي. (اللہ والوں کی باتیں، 32/7)

﴿19﴾ د خواهشاتو، جګړو او حاکِم نه لرې اوسئ. (اللہ والوں کی باتیں، 41/7)

﴿20﴾ د چا باطِن چې د هغهٔ د ظاهر نه ښهٔ وي نو دا فضل دے او د چا باطِن چې د هغهٔ د ظاهر نه خراب وي نو دا ظُلم دے. (اللہ والوں کی باتیں، 44/7)

﴿21﴾ قول، د عمل سره صحيح دے او قول او عمل دواړه د نيت سره صحيح دي او قول، عمل او نيت د سُنَّتو د موافقت سره صحيح وي. (اللہ والوں کی باتیں، 47/7)

﴿22﴾ کله چې **الله** پاک د يو بنده سره د خير اِراده فرمائي نو هغهٔ ته پهٔ قول او فعل کښې صحيح والے عطا کړي او هغه د ګناهونو نه محفوظ ساتي. (اللہ والوں کی باتیں، 49/7)

﴿23﴾ چا چې د کوم بد مذهبه خبره پهٔ توجه سره واوريدله او هغهٔ ته د هغهٔ بد مذهبي معلومه وه نو هغه د **الله** پاک د اَمان نه ووتو او نفس ته حواله کړے شو.
(اللہ والوں کی باتیں، 49/7)

﴿24﴾ د شِکم سَيري (يعنې د خِيټې مړولو) نه بچ اوسئ ولې چې دا زړهٔ سختوي، غصه ښېبئ او ډير مهٔ خاندئ ولې چې دا زړونه مړهٔ کوي. (اللہ والوں کی باتیں، 52/7)

﴿25﴾ د خپل کور والؤ سره پهٔ ښه طريقه اوسئ او داسې شئ چې ستاسو د حالت نه مرګ راياد شي. (اللہ والوں کی باتیں، 72/7)

﴿26﴾" لَاتَتَکَلَّمْ بِلِسَانِكَ مَاتَکْسِرُ بِهٖ اَسْنَانَكَ" يعنې د خپلې خُلې نه داسې خبره مۀ اوباسئ کومه چې ستاسو غاښونه مات کړي. (اللہ والوں کی باتیں، 536/6)

﴿27﴾ سيّدُنا عبدُ الله بن يُونس رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡه بيانوي چې ما حضرت سيِّدُنا سُفيان ثَوري رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡه بے شميره کرته پۀ دې دعا کولو ليدلے دے چې " اے الله! مونږ سلامت لرې، مونږ سلامت لرې، اے الله! د دې دُنيا نه مونږ د سلامتئ سره جَنَّت ته بوځې، اے الله! مونږ ته پۀ دُنيا او اخرت کښې عافيت راعطا کړې."
(اللہ والوں کی باتیں، 538/6)


﴿28﴾ د الله پاک د رحمت نه طمع لرونکے فاسِق د هغه عبادت ګزاره نه الله پاک ته ډير نزدې دے کوم چې د الله پاک د انعامونو د حاصلولو ذريعه صرف خپل عمل ګڼي. (اللہ والوں کی باتیں، 55/7)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب ❀❀❀❀ صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## دا رساله د لوستلو نه پس د ثواب پۀ نيت باندې چا له ورکړئ

د غم ښادئ پۀ دستورو، اِجتماعاتو، عُرسونو، د ميلاد پۀ جلوسونو وغيره کښې د مکتبة المدينه چاپ کړے شوې رسالې او د مَدَني ګلونو پمفلټس تقسيم کړئ او ثواب وګټئ، ګاهک ته د ثواب پۀ نيت پۀ تحفه کښې د ورکولو د پاره پۀ خپلو دکانونو کښې د رسالو کيښودو معمول جوړ کړئ، د اخبار خرخوونکو پۀ ذريعه د خپلې محلې کور کور ته د مياشتې کم از کم يوه د سُنَّتو نه ډکه رساله يا د مَدَني ګلونو پمفلټ ورکړئ او د نيکئ دعوت عام کړئ او ښه ډير ثواب وګټئ.

د راروانې هفتې رساله





فیضان مدینه محله سوداگران زړه سبزي منډۍ کراچي

UAN +92 21 111 25 26 92 0313-1139278

www.maktabatulmadinah.com / www.dawateislami.net

feedback@maktabatulmadinah.com / ilmia@dawateislami.net